# د یعقوب لیک

د کتاب پېژندنه

دا لیک د یعقوب له خوا چې د اورشلیم د کلیسا مشر ؤ، لیکل شوی دی. په دې لیک کې یعقوب هغو خلکو ته چې په عیسی مسیح باندې یې ایمان راوړی ؤ ټینګار کوي چې یوازې دا بس نه دی چې یو څوک دعوه وکړي چې په خدای باندې ایمان لري، بلکې ضروري ده چې هغه دا خپله دعوه په خپلو کړو وړو کې هم ثابته کړي. دا لیک په دې باندې ټینګار کوي چې په مسیحیت کې د ایمان ترڅنګ عمل هم ډېر مهم دی.

د یعقوب لیک په دې هکله لارښوونه کوي چې ایمانداره خلک باید د تکلیفونو په وخت کې څنګه عمل وکړي. هغوی باید د حکمت د لاسته راوړلو دپاره دعا وکړي ترڅو په دې پوه شي چې څنګه د خدای په قانون باندې عمل وکړي او د خدای څخه په اطاعت کولو سره خپل ژوند تېر کړي. د یو کس د عملونو مهم اړخ د هغه وینا یا خبرې دي چې کېدای شي د ښو یا بدو دپاره ترې کار واخیستل شي. د ایماندارانو د عملونو بل اړخ دا دی چې د غریبانو او مظلومانو سره څنګه چلند وشي. خدای زمونږ د عملونو وروستنی قاضي دی. مونږ باید د خدای د قضاوت دپاره په صبر سره انتظار وباسو او خپل ژوند نورو ته په دعا کولو او خدمت کولو سره تېر کړو.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱
ایمان او حکمت: ۱:۲–۸
غریب او شتمن خلک: ۱:۹–۱۱



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ازمېښتونه او وسوسې: ۱:۱۲-۱۸

د کلام اورېدل او عمل کول: ۱:۱۹-۲۷

د تبعیض په هکله خبرداری: ۲:۱-۱۳

ایمان او عمل: ۲:۱۴-۲۶

خپله ژبه په واک کې ساتل او حکمت: ۳:۱-۱۸

مسیحي او دنیاوي ژوند: ۴:۱ - ۵:۶

صبر او دعا: ۵:۷-۲۰



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سلامونه

١ ١ د خدای او د څښتن عیسی مسیح د خدمتګار یعقوب له خوا دې د اسراییلو دولس قبیلو ته
چې په ټوله نړۍ کې خواره واره شوي دي، سلام وي.

## ایمان او حکمت

٢ ای زما خویندو او ورونو! هرکله چې تاسو د ډول ډول ازمېښتونو سره مخامخ کېږئ نو هغه یوه
خوشحالي وګڼئ، ٣ ځکه تاسو پوهېږئ چې دا ستاسو د ایمان په ازمېښت کې ستاسو صبر او
زغم زیاتوي. ٤ کله چې ستاسو صبر او زغم نور هم زیات شي، نو تاسو به کامل او بې‌عیبه
انسانان شئ او د هېڅ شي کمی به په تاسو کې نه وي. ٥ خو که په تاسو کې په چا کې د حکمت
کمی وي، نو هغه دې د خدای څخه وغواړي چې هغه یې د سخاوت له مخې او بې له دې چې څوک
ملامته کړي هرچا ته ورکوي، نو هغه ته به هم ورکړل شي. ٦ خو کله چې څوک کوم شی
غواړي، نو هغه دې د ایمان سره وغواړي او هېڅ شک دې نه کوي، ځکه چې شک کوونکی د بحر د
هغو څپو په شان دی چې د باد په وسیله اخوا دې خوا غورځول کېږي. ٧ داسې سړی دې په دې
تمه نه اوسي چې ماته به د څښتن څخه کوم څه لاسته راشي، ٨ ځکه چې شکمن سړی په خپلو
کارونو کې ټینګ ولاړ نه وي.

## غریب خلک او شتمن خلک

٩ غریب ورور دې د خدای په وړاندې په خپلې سرلوړۍ باندې ویاړ وکړي ١٠ او همدارنګه
شتمن ورور دې په خپلې عاجزۍ باندې چې د خدای له خوا ده ویاړ وکړي، ځکه چې هغه به د
وانښو د ګل په شان له منځه لاړ شي. ١١ ځکه کله چې لمر د خپلې سوځوونکې ګرمۍ سره
راوخېژي نو وانښه وچ کړي، ګلان یې ورژیږي او ښایست یې له منځه لاړ شي. نو همداسې به شتمن
سړی هم د خپل کاروبار سره له منځه لاړ شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ازمېښتونه او وسوسې

۱۲ بختور دی هغه څوک چې د ازمېښت په وخت کې ټينګ پاتې شي، ځکه کله چې هغه د داسې ازمېښت څخه بريالی تېر شي، نو د ژوندون تاج به چې خدای د هغو خلکو سره چې ورباندې ګران دی وعده کړې ده، ترلاسه کړي. ۱۳ څوک چې وسوسه کيږي، نو هغه بايد دا ونه وايي: «خدای زه وسوسه کړی يم،» ځکه چې خدای د هيڅ ډول بدی په وسيله نه وسوسه کيږي او نه هم څوک وسوسه کوي. ۱۴ خو يو کس هغه وخت وسوسه کيږي چې کله هغه د خپلو نفساني غوښتنو په وسيله وهڅول شي او په دام کې راونيول شي. ۱۵ بيا د هغه نفساني غوښتنې د ګناه د راپيدا کېدلو سبب کيږي او کله چې ګناه خپل وروستي حد ته ورسيږي، نو د مرګ سبب ګرځي.

۱۶ ای زما ګرانو خويندو او ورونو! ونه غولېږئ. ۱۷ ټول ښه او کامل نعمتونه مونږ ته د خدای له خوا چې د لمر، سپوږمۍ او ستورو پيدا کوونکی دی، راځي. هغه نه بدلېدونکی دی او نه د سيوري په شان ګرځي او راګرځي. ۱۸ هغه مونږ د خپلې ارادې او رښتيني کلام په وسيله پيدا کړو، ترڅو د هغه په ټولو مخلوقاتو کې لکه د لومړني حاصل مېوه واوسو.

## د کلام اورېدل او په هغه باندې عمل کول

۱۹ نو ای ګرانو خويندو او ورونو! دا ياد ساتئ چې هرڅوک بايد په اورېدلو کې تېز، په خبرو کې ورو او په قهر کې سوړ اوسي. ۲۰ ځکه کله چې څوک په قهر شي هغه نه شي کولای چې د خدای عادلانه مقصدونه پوره کړي. ۲۱ له دې امله تاسو د ټولو غير اخلاقي کارونو او ټولو بديو څخه لاس واخلئ او په عاجزی سره هغه کلام قبول کړئ چې ستاسو په زړونو کې کرل شوی او کولای شي تاسو ته خلاصون درکړي. ۲۲ نو تاسو بايد د هغه په کلام عمل وکړئ او يوازې په اورېدلو سره يې خپل ځانونه مه غولوئ. ۲۳ ځکه څوک چې کلام ته غوږ نيسي او عمل پرې نه کوي، نو هغه د هغه سړي په شان دی چې خپل مخ په ايينه کې ويني. ۲۴ کله چې هغه خپل ځان ووينې او لاړ شي، نو سمدلاسه دا هېر کړي چې څېره يې څنګه وه. ۲۵ خو که چېرې څوک کامل او ازادي بخښونکې شريعت ته په غور سره وګوري او په هغه باندې عمل وکړي او څه چې واوري او هغه هېر نه کړي، نو خدای به د هغه په ټولو کارونو کې برکت واچوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ که څوک خپل ځان دینداره ګڼي او خپله ژبه په واک کې نه ساتي، نو هغه خپل ځان غولوي او دینداري یې هېڅ ګټه نه لري. ۲۷ د پلار خدای په نظر کې سوچه او بې‌عیبه دینداري دا ده چې په یتیمانو او کونډو باندې د مصیبت په وخت کې پام وکړو او پرې نه ږدو چې دا نړۍ مو فاسد کړي.

## د طرفدارۍ په خلاف خبرداری

۲ ۱ ای زما خویندو او ورونو! که چېرې تاسو زمونږ په څښتن عیسی مسیح چې د جلال خاوند دی ایمان لرئ، نو د چا طرفداري مه کوئ. ۲ فرض کړئ یو سړی چې د سرو زرو ګوته یې په لاس وي او ښکلې کالي یې اغوستي وي او ستاسو غونډې ته راشي او یو غریب سړی په زړو کالیو کې راشي ۳ او تاسو د هغه سړي درناوی وکړئ چې ښکلې کالي یې اغوستي دي او ورته ووایئ: «مهرباني وکړئ دلته په دې ښه ځای کې کښېنئ» او هغه غریب سړي ته ووایئ: «هلته ودرېږه یا دلته په ځمکه باندې کښېنه.» ۴ ایا تاسو په خپل منځ کې د تبعیض څخه کار وانخیست او ایا د بدو خیالونو له مخې مو قضاوت ونه کړ؟

۵ ای زما ګرانو خویندو او ورونو! واورئ، ایا خدای د دې نړۍ غریبان نه دي غوره کړي چې په ایمان کې شتمن وي او د هغې پاچاهۍ وارثان وي چې خدای د هغو خلکو سره وعده کړې ده چې ورسره مینه کوي؟ ۶ خو تاسو د غریب سړي سپکاوی وکړ. ایا شتمن خلک په تاسو باندې ظلم نه کوي او تاسو محکمو ته نه راکاږي؟ ۷ ایا هغوی د مسیح نېک نوم چې خدای په تاسو باندې ایښی دی، نه بدناموي؟

۸ که چېرې تاسو په رښتیا سره د څښتن د شریعت په شاهانه حکم باندې عمل وکړئ چې د خدای په کلام کې یې یادونه شوې ده چې وایي: «د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوه» نو ښه کار کوئ. ۹ خو که چېرې تاسو د کوم چا طرفداري کوئ نو ګناه کوئ او شریعت تاسو د قانون ماتوونکو په توګه محکوموي. ۱۰ ځکه که چېرې څوک د شریعت په ټولو حکمونو عمل وکړي خو یو حکم یې مات کړي نو هغه د ټول شریعت په ماتولو ګناهکار شو. ۱۱ ځکه چا چې ویلي دي: «زنا مه کوه.» نو دا یې هم ویلي دي: «قتل مه کوه.» که ته زنا نه کوې خو قتل وکړې، نو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیاهم ته د شریعت ماتوونکی شوې. ﴿۱۲﴾ نو د هغو خلکو په شان خبرې او عمل وکړئ چې د هغه شریعت له مخې به ورباندې قضاوت کیږي چې مونږ ته ازادي راکوي. ﴿۱۳﴾ ځکه چې د قضاوت په وخت کې به خدای په هغه چا باندې رحم ونه کړي چې په نورو باندې یې رحم نه دی کړی. خو بیاهم رحم په قضاوت باندې بریالی دی.

## بې له عمل نه ایمان مړ دی

﴿۱۴﴾ ای زما خویندو او ورونو! که څوک ووایي چې زه ایمان لرم خو عمل نه کوي نو ګټه یې څه ده؟ ایا داسې ایمان هغه ته خلاصون ورکولای شي؟ ﴿۱۵﴾ فرض کړئ تاسو ووینئ چې یو ورور یا خور کالیو او خوړو ته اړتیا لري، ﴿۱۶﴾ او ستاسو څخه یو څوک هغه ته ووایي: «په خیر لاړ شه او تود او موړ اوسه.» خو چې کومو شیانو ته اړتیا لري هغه ورته ورنه کړئ نو څه ګټه به ولري؟ ﴿۱۷﴾ نو په همدې ډول که چېرې د ایمان سره عمل نه وي نو هغه ایمان مړ دی.

﴿۱۸﴾ خو کېدای شي چې څوک ووایي: «ته ایمان لرې او زه نېک کارونه کوم. ته دې خپل ایمان بې له عمله ماته وښایه او زه به خپل ایمان د خپلو عملونو په وسیله تاته دروښایم.» ﴿۱۹﴾ ته په دې باور لرې چې خدای یو دی نو ډېره ښه ده. شیطان او پېریان هم په دې باور لري او له وېرې رپیږي. ﴿۲۰﴾ ای ناپوهه سړیه! ایا په دې نه پوهیږې چې ایمان بې له عمل نه بې‌ګټې دی؟ ﴿۲۱﴾ کله چې زمونږ نیکه ابراهیم خپل زوی اسحاق د قربانۍ په ځای کې خدای ته وړاندې کړ نو ایا هغه په دې عمل سره د خدای له خوا نېک ونه ګڼل شو؟ ﴿۲۲﴾ تاسو ګورئ چې د هغه ایمان او عمل په ګډه سره کار وکړ او په عمل سره د هغه ایمان کامل شو. ﴿۲۳﴾ په دې ډول د خدای د کلام هغه وینا رښتیا شوه چې وایي:

ابراهیم په خدای ایمان راوړ او په دې باندې هغه عادل وګڼل شو.

او هغه د خدای دوست وبلل شو. ﴿۲۴﴾ نو تاسو وینئ چې انسان یوازې په ایمان نه بلکې په خپل عمل باندې نېک کیږي. ﴿۲۵﴾ نو په همدې ډول بدلمنه راحاب د خپلو نېکو عملونو په وسیله چې اسراییلي استازو ته یې پناه ورکړه او د هغوی سره یې مرسته وکړه چې په بله لاره وتښتي، نېکه وګڼل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه.

(۲۶) نو لکه څنګه چې بدن بې له روح نه مړ دی، نو همدا شان ایمان هم بې له عمل نه مړ دی.

## خپله ژبه په خپل واک کې ساتل

**۳** (۱) ای زما خویندو او ورونو! باید هڅه ونه کړئ چې تاسو ټول دې استاذان شئ، ځکه په دې پوهېږئ چې مونږ استاذانو سره به تر نورو زیات حساب کیږي، (۲) ځکه چې مونږ ټول ډېرې تېروتنې کوو او څوک چې په خبرو کې تېروتنه نه کوي هغه کامل انسان دی او هغه کولای شي چې خپل ټول بدن په خپل واک کې وساتي. (۳) مونږ د اس په خوله کې قیضه اچوو، ترڅو زمونږ تابع شي او هرې خواته چې وغواړو هغه بوځو. (۴) همدارنګه کشتۍګانو ته وګورئ، سره له دې چې ډېرې غټې وي او په قوي بادونو باندې چلیږي، خو د یو وړوکي راشپېل په وسیله رهنمایي کیږي او هرې خواته چې کشتي چلوونکی وغواړي هماغې خواته یې بېولی شي. (۵) ژبه هم همداسې ده، که څه هم هغه د بدن یو وړوکی غړی دی، خو د غټوغټو شیانو په هکله لافې وهي.

ګورئ څومره لوی ځنګل د اور په یو ورکوټي بڅرکي سره اور اخلي. (۶) همدارنګه ژبه هم د اور په شان ده. هغه د بدیو څخه ډکه یوه نړی ده چې زمونږ په ټول بدن کې ځای نیسي او زمونږ ټول بدن فاسدوي. هغه زمونږ ټول ژوندون په اور سوځوي او دا په خپله د دوزخ په اور کې سوځیږي.

(۷) نو انسان کولای شي چې هر ډول وحشي حیوانات، مرغان، خزندې او بحري حیوانات اهلي کړي او اهلي کړي یې دي، (۸) خو هېڅوک نه شي کولای خپله ژبه په خپل واک کې وساتي. ژبه بده او نه کنترولوونکې ده او د وژونکو زهرو څخه ډکه ده. (۹) په همدې ژبه مونږ هم د څښتن یعني اسماني پلار ثنا او صفت کوو او هم په انسان باندې چې د خدای په شکل پیدا شوی دی، بد وایو. (۱۰) د همدې یوې خولې څخه هم د ستاینې خبرې راوځي او هم بدې خبرې. ای خویندو او ورونو! داسې باید نه وي. (۱۱) ایا دا کېدای شي چې د یوې چینې د خولې څخه هم خوږې او هم تروې اوبه راوځي؟ (۱۲) ای زما خویندو او ورونو! ایا د انځر ونه کولای شي چې زیتون او یا د انګورو تاک انځر ونیسي؟ په همدې ډول د تروو اوبو د چینې څخه خوږې اوبه نه شي راوتلی.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۳) په تاسو کې څوک هوښيار او پوه شته؟ که چېرې وي، نو هغه دې دا په نېک ژوند تېرولو او په نېکو کارونو ثابته کړي يعنې داسې عاجزي چې د حکمت نه پيدا کيږي. (۱۴) که چېرې ستاسو په زړونو کې سخته کينه او ځان خوښونه وي، نو بايد لافې ونه وهئ چې هوښياران يئ. که داسې وکړئ، نو حقيقت په دروغو بدلوئ. (۱۵) دا هغه حکمت نه دی چې د اسمان نه راځي بلکې دا دنياوي، نفساني او شيطاني حکمت دی. (۱۶) ځکه چې هرچېرته چې کينه او ځان خوښونه وي، نو هلته ګډوډي او هر ډول بد کارونه کيږي. (۱۷) خو کوم حکمت چې د اسمان نه راځي هغه لومړی سوچه وي، بيا سوله خوښوونکی، نرم، معقول، رحم کوونکی، له ښو ثمرو ډک، بېطرفه او بېريا وي. (۱۸) او د نېکۍ او عدالت حاصل د هغه تخم څخه پيدا کيږي چې د سوله خوښوونکو له خوا په سوله کې کرل کيږي.

## د دنياوي شيانو سره مينه مه کوئ

**۴** (۱) ستاسو په منځ کې جنګونه او شخړې له کومه راپيدا کيږي؟ ايا هغه ستاسو د نفساني غوښتنو له امله چې په تاسو کې په جګړه کې دي، نه راپيدا کيږي؟ (۲) تاسو چې کوم شی غواړئ او هغه په لاس نه درځي، نو دې ته تيار يئ چې قتل وکړئ. تاسو د نورو سره بخيلي کوئ، خو څه چې غواړئ هغه لاسته نه شئ راوړلی، نو جنګ او شخړه کوئ. خو بياهم کوم شی په لاس نه درځي، ځکه چې د خدای څخه يې نه غواړئ. (۳) خو که تاسو د خدای څخه د کوم شي دپاره سوال هم وکړئ، نو هغه به يې درنه کړي، ځکه چې په بد نيت او د خپلو هوسونو د پوره کولو دپاره يې غواړئ. (۴) ای بېايمانه خلکو! ايا تاسو نه پوهېږئ چې د نړۍ سره دوستي کول د خدای سره دښمني کول دي؟ له دې امله څوک چې غواړي د نړۍ سره دوستي وکړي، نو هغه خپل ځان د خدای دښمن کوي. (۵) ايا تاسو ګومان کوئ چې د خدای د کلام دا وينا بېځايه ده چې وايي: «هغه روح چې خدای په مونږ کې اچولی دی هغه ډېرې سختې غوښتنې لري؟» (۶) خو خدای په مونږ باندې زيات فضل کوي، نو له دې امله د خدای کلام وايي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای د کبرجنو په ضد دی، خو په عاجزانو باندې فضل کوي.

۷ نو له همدې امله د خپل خدای تابعداري کوئ او د شیطان په وړاندې ټینګ ودرېږئ، نو هغه به درڅخه وتښتي. ۸ خپل ځانونه خدای ته ورنژدې کړئ، نو هغه به هم تاسو ته درنژدې شي. ای ګناهکارانو! خپل لاسونه د بدو کارونو څخه پاک کړئ. ای منافقانو! خپل زړونه پاک کړئ. ۹ غمجن اوسئ، ویر او ژړا وکړئ. ستاسو خندا دې په ژړا بدله شي او ستاسو خوشحالي دې په غم. ۱۰ خپل ځانونه د څښتن په وړاندې عاجزان کړئ، نو هغه به تاسو سرلوړي کړي.

## د نورو په هکله قضاوت مه کوئ

۱۱ ای خویندو او ورونو! یو بل پسې بدې خبرې مه کوئ. څوک چې خپل ورور پسې بدې خبرې کوي او یا د هغه په هکله قضاوت کوي، نو په حقیقت کې د شریعت بد وایي او د هغه په هکله قضاوت کوي. که ته د شریعت په هکله قضاوت کوې، نو په شریعت عمل نه کوې بلکې خپل ځان د هغه نه لوړ ګڼې لکه په خپله چې قاضي يې. ۱۲ یوازې خدای دی چې هم شریعت ورکوي او هم قاضي دی. یوازې هغه دی چې دا قدرت لري چې خلک وژغوري او یا یې له منځه یوسي. نو ته بیا څوک يې چې د خپل ګاونډي په هکله قضاوت کوې؟

## په لاپو وهلو باندې ویاړ مه کوئ

۱۳ ای خلکو واورئ، تاسو چې وایئ: «مونږ به نن یا سبا فلاني ښار ته لاړ شو او هلته به یو کال تېر کړو، هلته به سوداګري وکړو او ډېري پیسې به وګټو.» ۱۴ خو تاسو په دې هم نه پوهېږئ چې سبا به څه کیږي، ستاسو ژوند څه شی دی؟ هغه د بخار په شان دی چې د لږې شیبې دپاره راښکاره کیږي او بیا ورکیږي. ۱۵ د دې په ځای باید ووایئ: «که د څښتن رضا وي نو مونږ به ژوندي پاتې شو او دا یا هغه کار به وکړو.» ۱۶ خو تاسو اوس په خپلو لاپو باندې ویاړ کوئ او داسې لافې وهل بد کار دی. ۱۷ نو بیا څوک چې په نېکی کولو پوهیږي او نه يې کوي، نو هغه ګناه کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## شتمنو خلکو ته خبرداری

۵ ۞ واورئ ای شتمنو خلکو! د هغو مصيبتونو په خاطر چې په تاسو باندې راتلونکي دي، ژړا او انګولا وکړئ. ۞ ستاسو شتمني تباه شوي ده او کالي مو چينجو خوړلي دي. ۞ ستاسو سره زر او سپين زر زنګ وهلي او د هغوی زنګ به په تاسو شاهدي ورکوي او د اور په شان به ستاسو بدن وسوځوي. خو بياهم تاسو د دې نړۍ په اخرو ورځو کې مال او دولت ذخيره کوئ. ۞ ګورئ، کومو خلکو چې ستاسو په پټيو کې لو کړی دی او تاسو د هغوی مزدوري نه ده ورکړې، چيغې وهي او د لوګړو فريادونه د مطلق قادر څښتن غوږونو ته رسېدلي دي. ۞ تاسو په نړۍ کې په عيش او عشرت ژوند تېروئ او مزې کوئ، خو اوس تاسو د هغو حيواناتو په شان يئ چې ځانونه مو د حلالولو د ورځې دپاره چاغ کړي دي. ۞ تاسو بې‌ګناه خلک مجرمان کړل او ومو وژل او هغوی ستاسو په وړاندې ونه درېدل.

## په سختيو کې صبر کول

۞ نو ای خويندو او ورونو! د څښتن تر راتګ پورې صبر وکړئ. ګورئ، يو بزګر څنګه د خپلې ځمکې ښه د ارزښتناکه حاصل د راټولولو په خاطر صبر کوي او د منې او پسرلي بارانونو ته انتظار وباسي. ۞ نو تاسو هم بايد صبر وکړئ او خپل زړونه قوي کړئ، ځکه چې د څښتن راتګ نژدې دی.

۞ ای خويندو او ورونو! د يو بل ښه شکايت مه کوئ، ترڅو خدای تاسو تر خپل قضاوت لاندې ونه نيسي، ځکه چې قاضي په دروازه کې ولاړ دی. ۞ ای خويندو او ورونو! کومو پيغمبرانو چې د څښتن په نوم خبرې کړې دي د هغوی صبر او کړاوونه د خپلو ځانونو دپاره مثال وګرځوئ. ۞ مونږ صبر کوونکي خلک بختور ګڼو. تاسو د ايوب د صبر په هکله اورېدلي دي او خبر يئ چې څښتن په پای کې د هغه سره څنګه مرسته وکړه، ځکه چې خدای ډېر زړه‌سواندی او مهربانه دی.

۞ ای زما خويندو او ورونو! په پای کې دا مهمه ده چې قسم ونه خورئ، نه په اسمان، نه په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځمکه او نه په کوم بل شي، بلکې ستاسو «هو» باید «هو» وي او «نه» مو «نه» وي، هسې نه چې د
خدای د قضاوت لاندې راشئ.

## زوروره او اثرناکه دعا

۱۳ که ستاسو څخه کوم څوک د کړاوونو سره مخامخ وي، نو دعا دې وکړي او که څوک
خوشحاله وي، نو هغه دې د ستاینې سندرې ووایي. ۱۴ که په تاسو کې څوک ناروغه وي، نو د
کلیسا مشران دې راوغواړي چې د هغه دپاره دعا وکړي او د هغه بدن دې د څښتن په نوم په تېلو
باندې غوړ کړي. ۱۵ کومه دعا چې په ایمان سره وشي، نو ناروغ به جوړ شي. څښتن به بېرته هغه
روغ کړي او که ګناه یې کړې وي، نو هغه به ورته وبخښل شي. ۱۶ نو بیا یو بل ته د خپلو ګناهونو
اقرار وکړئ او د یو بل دپاره دعا وکړئ چې شفا ومومئ. د نېک سړي دعا ډېره زوروره او اثرناکه
وي. ۱۷ الیاس نبي زمونږ په شان یو انسان ؤ، خو کله یې چې د زړه له کومي دعا وکړه چې باران
دې ونه ورېږي، نو تر درې نیمو کلونو پورې په ځمکه باندې باران ونه شو. ۱۸ هغه بیوځل بیا دعا
وکړه او د اسمان څخه باران وشو او په ځمکه کې فصل پیدا شو.

۱۹ ای زما خویندو او ورونو! که په تاسو کې څوک د رښتینې لارې څخه واوړي او بل څوک هغه
بېرته راوګرځوي، ۲۰ نو هغه دې په دې پوه شي چې هرڅوک چې یو ګناهکار د خپلې غلطې
لارې څخه راوګرځوي، نو هغه د مرګ څخه ژغوري او د هغه ګناهکار ډېر ګناهونه به وبخښل شي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.